مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۹** (از ۷ الی ۱۴ ثور ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### مشورتي لويه جرگه؛ د سولې په پروسه يې اغېزې

د جرگې دغړو او رئيس انتخاب ........ ۴

د جرگې تالار دننه وضعيت ........ ۵

د بحث لپاره پوښتنې ........ ٦

پرېکړه لیک او د سولې په پروسه يې اغېز ........ ۷

### روز جهانی کارگر و صد ها هزار کارگر افغان در آرزوی کار

تاریخچهٔ روز جهانی کارگر ........ ۸

کار و کارگر در قوانین افغانستان ........ ۹

پیشنهادات ........ ۱۱

## مقدمه

د ټولو مخالفتونو او نانډریو سره سره  د سولې په پار مشورتي لویه جرګه، تېره دوشنبه د ثور په ۹مه، پیل او ۵ ورځې يې دوام وکړ. د جرګې موخه دا وه چې سوله تعریف کړي، حدود یې وټاکي او حکومت ته په دې اړه لازمې مشورې ورکړي. حکومت د جرګې پیل د سولې لپاره د بین الافغاني خبرو پیلامه وګڼله

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې  د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو په اړتیا، ډول یې او په ټوله کې د مشورتي لویې جرګې له جوړېدو موخه څه وه او څه ترې تر لاسه شول خبرې شوې دي.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه په افغانستان کې کارګر او کارګرۍ وضعیت ته ځانګړې شوې ده؛ په داسې حال کې چې د مې لومړۍ نېټه (ثور ۱۱مه) د کارګرانو نړیواله ورځ ده د کار او ټولنیزو چارو وزارت د معلوماتو له‌مخې دامهال دوه مېلیونه افغان وګړي بېکاره او نیم کاره دي. ددې وزارت د معلوماتو له‌مخې په افغانستان کې دا مهال ۸ نیم مېلیونه پر کاري شرایطو برابره کاري قوه شتون لري. په هېواد کې روانه جګړه، اداري فساد، د امکاناتو او منابعو کموالی د بېکارۍ له اصلي لاملونو څخه بلل کېږي.

دا چې په افغانستان کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ وضعیت څه ډول دی، په نورو هېوادونو کې د افغانستان اقتصادي کډوال په څه وضعیت کې دي او حکومت ته په دې برخه کې څه کول په‌کار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## مشورتي لویه جرګه؛ د سولې په پروسه یې اغېزې



د ټولو مخالفتونو او ناندریو سره سره  د سولې په پار مشورتي لویه جرګه، تېره دوشنبه د ثور په ۹مه، پیل او ۵ ورځې یې دوام وکړ. د جرګې موخه دا وه چې سوله تعریف کړي، حدود یې وټاکي او حکومت ته په دې اړه لازمې مشورې ورکړي. حکومت د جرګې پیل د سولې لپاره د بین الافغاني خبرو پیلامه وګڼله او په دې توګه یې کوشش وکړ چې د سولې په روانه پروسه کې  له څنډې څخه د خبرو مرکز ته ور ودانګي. ښکاره خبره ده چې حکومت د سولې په اړه خپل تعریف لري او حدود یې هم ورته معلوم دي. اما د سولې لپاره د حکومت پر تعریف نه یواځې دا چې اجماع نه شته بلکې د همدې تعریف له کبله د سولې په روانه پروسه کې د حکومت رول ضعیف او په ځینو مواردو کې د مخالفت تر حده رسېدلی دی. د عوامو لویې کتلې، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو، د هېواد پخواني ولسمشر حامد کرزي، او نورو نفوذ لرونکو شخصیتونو د سولې په اړه د حکومت د دریځ مخالفت کړی او په دې اړه یې په ناغېړیو تورن کړی دی. په دې اړه د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم  پر حکومت مکررې نیوکې کړې دي. د مخالفتونو، فشارونو او د سیاسي انزوا په  دې چاپېریال کې ولسمشر محمد اشرف غني او متحدینو یې مناسب ولید چې د سولې په نامه د یوې مشورتي جرګې له لارې خپل موقف پیاوړی کړي.

## د جرگې دغړو او رئیس انتخاب

حکومت اعلان وکړ چې د جرگې غړي به نیمه انتخابي بڼه ولري. د ۳۲۰۰ څخه نږدې ۱۰۰۰ تنه له کابل او نورو یې له ولایاتو څخه په جرگه کې گډون وکړ. په ولایاتو کې یو کمیسیون، چې د ولایتي شورا مشر، د ولایت د ښځو چارو رئیسه، د ولایت د علماوو د شورا مشر، د مدني ټولنې استازي او نور په کې شامل وو، د والي تر نظارت لاندې د جرگې غړي انتخاب کړل.

له ولایاتو څخه د غړو د انتخاب په اړه شکایات رسنیز شول او ادعا وشوه چې جرگې ته اکثر دولتي مأمورین او یا هم د ولایت او ولایتي شورا د خوښې وړ کسان انتخاب شوي دي. د کابل د نږدې ۱۰۰۰ کسیز لست په اړه معلومه نه شوه چې څنگه انتخاب شول، کوم خلک انتخاب شول، او چا انتخاب کړل. په همدې دلیل د جرگې د مشورو جهت تر ډېره حده کنټرول شو .

کله چې حکومت د مشورتي جرگې د را غوښتلو پرېکړه وکړه، له هماغه اوله سره ورسره مخالفتونه پیل شول. سیاسي گوندونو دا جرگه د اشرف غني ټاکنیز کمپاین وباله او د پرېکون اعلان یې ور سره وکړ. حامد کرزي که څه هم په لمړي سر کې د حکومت دا پرېکړه تائید کړه، خو وروسته یې جرگه غیر ضروري او  پایلې یې مشکوکې و بللې. د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار هم مشورتي لویه جرگه غیر ضروري او د سولې پر وړاندې خنډ وباله. تر ټولو مهمه دا چې د حکومت اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله شکایت وکړ چې د جرگې په اړه ورسره مشوره نه ده شوې او جرگه به تحریم کړي.

د ډېرو سیاسی خیرو د پریکون په منځ کی ولسمشر غني وتوانېد استاد عبدالرب رسول سیاف ته قناعت ورکړي چې د جرگی مشرې په غاړه واخلي، هغه څوک چی تر اوسه هم د جهادي رهبرانو په مینځ کې خپل ځای لري او د هېواد په سیاسي قشر کې یې تر اوسه درجه او حرمت شته. په علمي لحاظ هم د اسلامي علومو پروفیسور دی، او تاثیر لرونکي خطابه لري. دا ټولې ځانگړنې پر اشرف غني د راټولو شویو افرادو له جملې څخه په یوه کې هم نه سره ټولیږي. په همدې دلیل، استاد سیاف، جرگې ته د مشروعیت ورکولو وروستی تم ځای وو.

## د جرگې تالار دننه وضعیت

د جرگې  تالار ځانگړی پیغام درلود. کوشش شوی وو چې جرگه یوه ملي غونډه معرفي شي. د عبدالله عبدالله تصویر د ستېج پر سر ځوړند وو. د ملي ټلویزیون خبري پوښښ هم، د کرزي او دوو تنو طالبانو تصویرونه ښودل. د دې تر څنگ؛ ملي ټلویزیون د لمړۍ ورځې د خبري پوښښ انحصار درلود. د نورو رسنیو خبریالانو او کامرو ته اجازه نه وه چې تالار ته ورشي او گډون کوونکو سره خبرې وکړي. د جرگې تنظیموونکو پرېکړه کړې وه چې د کمېټو کار او خبرې به د بندو دروازو تر شا کیږي. دلیل یې دا وو چې گډون کوونکي باید پرته له ویرې او تشویش خپله خبره وکړي. کله چې رسنیو په دې هکله شکایتونه وکړل نو بیا ځینې رسنیو ته اجازه ورکړل شوه چې گډون والو سره په محدود وخت کی مرکې وکړي. د تالار د سمبولونو او انځورونو سره سره، د خبري پوښښ

انحصار او محدودیت دا په ګوته کړه چې تنظیموونکو یې غوښتل پر غونډې پوره کنټرول ولري او د غیر منتظره پایلو مخ نیوی وکړي.
د رسنیز کنټرول ترڅنګ، د ولسمشر له خوا د رئیس انتصاب او د رئیس له خوا د اداري هئیت د انتصاب له کوشش څخه معلومیږي چې د جرګې د کنټرول هڅې کېدې او حکومت غوښتل د جرګې د مشورو بهیر او په نتیجه کې یې پایلې کنټرول کړي.

## د بحث لپاره پوښتنې

د بحث لپاره د حکومت له خوا مشخصې پوښتنې وړاندې شوې وې چې باید ځواب شوې وی. کومې څلور پوښتنې چې د حکومت له خوا د مشورې لپاره د جرګې ګډون‌والو ته وړاندې شوې، په ترتیب سره د حکومت لپاره د موضوعاتو د اهمیت پر اساس لیکل شوې وې، او ترکیز یې پر هغو مسایلو وو چې په تېرو څو میاشتو کې د سولې په مذاکراتو کې حکومت پرې کلک درېدلی وو.
لمړی او تر ټولو مهمه موضوع دا وه چې څنګه طالبانو ته قناعت ورکړل شي تر څو سولې ته غاړه کېږدي. دلته موخه دا نه ده چې طالبان اصلاً سوله نه غواړي وکړي. موخه دا ده چې طالبان څنګه حکومت سره خبرو ته حاضر کړی شي. طالبانو تر اوسه د حکومت سره له ناستې انکار کړی دی او دایې د خپلې جګړې د مشروعیت په ضرر ګڼلې ده. طالبان وایي چې بین الافغاني مذاکرات موږ ته د عامو افغانانو او سیاسي احزابو سره د خبرو په معنی دي نه د حکومتي اشخاصو سره. په داسې حالت کې حکومت د جرګې له لارې وغوښتل پر امریکا او طالبانو فشار راوړي تر څو حکومت، منحیث حکومت د خبرو یو طرف شي.
د دې پوښتنې لپاره د ګډونوالو ځوابونه مختلف وو خو ځینې د اشتراک ټکي په کې دا وو چې په افغانستان کې باید طالبانو ته دفتر پرانیستل شي، بهرني ځواکونه دې د تقسیم اوقات له‌مخې ووځي، اوربند دې وشي، او دواړه خواوې دې د اعتبار فضاء جوړونې لپاره بندیان خوشي کړي.
د بهرنیو ځواکونو وتل او یا پاتې کېدل د افغان دولت صلاحیت نه دی. له بلې خوا امریکایانو منلې ده چې که شرایط برابر شول، دوی وځي. د بندیانو خوشي کول یو معقول عمل دی خو دا عمل به طالبان د حکومت سره خبرو ته اړ نه کړی شي. په افغانستان کې طالبانو ته د دفتر پرانیستل د حکومت غوښتنه وه او دا هغه څه دي چې حکومت یې په اړه په وار وار آماده‌ګي ښودلې ده. خو افغانستان کې طالبانو ته دفتر پرانیستل عملي نه دي، ځکه چې په سیاسي لحاظ به طالبان د حکومت تر سیوري لاندې خبرو ته زړه ښه نه کړي.
دوهمه مسئله د ارزښتونو د ساتلو مسئله ده: حکومت له جرګې مخکې د سولې په پروسه کې د اساسي قانون پر ساتلو او د ټاکنو پر کولو تأکید کړی دی. د حکومت دا دریځ په ضمني بڼه د امریکا، او په صریحه توګه د سیاسي احزابو او مخورو شخصیتونو له خوا رد شوی دی. حکومت د مشورتي جرګې له لارې د خپل دریځ د مشروعیت هڅه وکړه او تقریباً په دې اړه جرګې د حکومت د دریځ ملاتړ وکړ. مشورتي جرګې د ډېرو مسایلو د

ساتلو خبره وکړه خو د اساسي قانون ساتل، ټاکنې او نظام ساتل هغه څه وو چې حکومت په موجوده وخت کی ډیره اړتیا ورته لري.

درېیمه مسئله د سولې د مذاکراتو لپاره د مذاکراتي ټیم د لېست د جوړولو بحث دی. حکومت په دې اړه د بحث ضرورت ځکه حس کړ چې د بین الافغاني خبرو لپاره په قطر کې پلان شوی مجلس د همدې لست پر سر د نانددریو له کبله وځنډول شو. حکومت وغوښتل چې د جرګې له لارې ځینې ټکي را ټول کړي او په راتلونکي کې یې د لست په جوړولو کې د افغانستان د خلکو د غوښتنې په توګه د براعت مسئولیت پر غاړه واخلي. د نوموړې مسئلې په اړه د جرګې ځواب ډېر عام وو چې په درېیو ټکو را څرخېده؛ لیست دې عام او ټول شموله وي، متخصصین دې په کې ځای پر ځای شي، د مشورتي جرګې غړي دې په کې شامل شي، او لنډ دې وي.

دا د جرګې هغه عامې غوښتنې وی چې جمهور رئیس په خپلو اختتامیه خبرو کی ورته مناسب ځواب ورکړ.

څلورمه مسئله د افغانستان په قضیه کې د دخیلو هیوادونو په اړه د حکومت د دریځ په اړه ده. دا مسئله تخصصي او د جرګې د بحث له علمي او تخصصي صلاحیت څخه لوړه وه. د جرګې مشوره هم ډېره عامه او په ځینو مواردو کې د روان وضعیت په اړه د پوهې او درک د نه شتون له کبله غیر واقعي او ایډیالستیکه وه.

## پرېکړه لیک او د سولې په پروسه یې اغېز

له پنځو ورځو مشورو وروسته مشورتي لویې جرګې د ۲۳ فقریز پرېکړه‌لیک په نشر سره په افغانستان کې د تلپاتې سولې غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې د سولې پروسې د ټولو ښکېلو اړخونو سره له تفاهم وروسته د بهرنیو ځواکونو مسولانه وتلو لپاره عملي مهال وېش تنظیم شي، چې تر اوسه پورې په دومره لوړه کچه د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع نه وه مطرح شوې، په پرېکړه لیک کې د ملي بنسټونو او جمهوري نظام په ساتنه ټینګار شوی دی، د اساسي قانون ساتلو؛ خو د اړتیا پر وخت یې د تعدیلېدو غوښتنه هم د جرګې د ۲۳ مادو پرېکړه لیک یوه برخه ده. د جرګې د پرېکړه لیک له مخې، افغان دولت او طالبان باید د یو بل له بندیانو سره انساني چلند او د بندیانو د تبادلې او خلاصون لپاره زمینه برابره کړي. د جرګې په پرېکړه لیک کې د روانې جګړې ختمولو لپاره د جګړې د ښکېلو غاړو له خوا د یو بل پرضد د تبلیغاتو درولو او د بېړني او دایمي اوربند اعلانېدو او تطبیقېدو ټینګه غوښتنه شوې.

همدا ډول د جرګې غړیو په سیاسي ګوندونو، سیاسي جریانونو، اغېزناکو ملي شخصیتونو او د افغانستان له دولت څخه غوارې چې د سولې بین الافغاني خبرو اترو ته دې له یو واحد او افغانستان شموله آدرس څخه دننه شي. په پرېکړه لیک کې د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه شوې چې له طالبانو سره مخامخ خبرو اترو لپاره یو بې طرفه پلاوی وټاکي چې په هغه کې جهادي او ملي شخصیتونه، متخصصین، تجربه لرونکي، جید علما او نېک شهرت والا خلک شامل وي او تعداد یې هم تر ۵۰ زیات نه وي.

جمهور رئیس د جرګې په اختتامیه مراسمو کې وویل چمتو دی دې لویې جرګې د وړاندیز له مخې اوربند عملي کړي، خو دا اوربند به هغه مهال وي چې طالبان هم ګام پورته کړي. او د روژې په خاطر او جرګې ته په درناوي د طالبانو ۱۷۵ بندیانو د خوشې کیدو اعلان هم وکړ.

بی له شکه ددې جرګې په دایرېدو سره افغان حکومت د سولی په اړه خپله انزوا ختمه او بیرته یی ابتکار په خپل لاس کی واخیست. همدارنګه یې نړیوالو او طالبانو ته دا پیغام ورکړ چې په افغانستان کې سولې ته رسیدل، د افغان حکومت نه بغیر ممکن ندي.

په کابل کې د سولې مشورتي جرګه په داسې حال کې پای ته رسیږي چې یوه اوونۍ مخکې په مسکو کې د افغانستان د سولې په اړه د روسیې، چین او امریکا په ګډون دری اړخیزه غونډه جوړه شوې وه او دوی په افغانستان کې د سولې په اړه ګډې هوکړې ته رسېدلي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت له آدرسه خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر مسؤولانه وتلو او د افغان سولې په برخه کې د لومړۍ هڅې په توګه د اوربند پر اعلان ټینګار شوی. دې هېوادونو ژمنه کړې چې د ټولو افغانانو په ګډون او د افغانانو په مشرۍ د سولې خبرو ملاتړ کوي او په دې برخه کې مرستې ته چمتو دي.

همدارنګه د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد هم د مسکو دری اړخیزه ناسته ستایلې او زیاته کړې یې چې د افغانستان د سولې په اړه نړیواله اجماع رامنځته شوې ده او افغان حکومت هم ددې اقدام هر کلی کړی دی.

## روز جهانی کارگر و صد ها هزار کارگر افغان در آرزوی کار



اول مَی که مصادف است با یازدهم ثور، روز جهانی کارگر است و از آن، در حالی در سراسر جهان تجلیل می شود که حدود دو ملیون واجد کار در کشور ما از بیکاری می نالد و بلندترین آرزوی کارگران افغان، داشتن یک شغل آبرومند و دوامدار است.

امسال، [1]روز جهانی کارگر در حالی در میهن عزیز ما تجلیل شد که از مجموع نفوس کشور، 49،66 درصد آن‌ها، به لحاظ سنی، واجد شرایط کار می باشند؛ ولی متأسفانه ازین میان حدود 30،7 درصد، تنها از قشر جوان بیکار می باشند و بر بنیاد گزارش ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات در رابطه به میزان فقر درکشور، نشان می دهد که متأسفانه 51،7 درصد مردم افغانستان در حالت فقر چند بُعدی به سر می برند و نیز یافته های این اداره در سروی‌یی که به کمک انستیتوت ICON در جریان سال 1397هـ ش انجام یافت، نشان می دهد که 54،5 درصد مردم افغانستان زیر خط فقر زندگی می کنند.

درین تحلیل تاریخچه روز جهانی کارگر  و وضعیت جاری کار و کارگر در افغانستان مورد بحث قرار گرفته است.

[1] http://cso.gov.af/fa/news/report

## تاریخچۀ روز جهانی کارگر

[2]روز جهانی کارگر یکی از روز های رسمی بین المللی است که تاریخچۀ آن به ۱۳۳ سال پیش از امروز بر می گردد؛ درست هنگامی که کارگران امریکایی به تاریخ اول ماه مَی سال 1886م در شهر شیکاگو جهت دادخواهی به خیابان ها بر آمده و خواستار تقلیل ساعات کاری از ۱۴ ساعت به ۸ ساعت و بهبود شرایط کار برای کارگران شدند؛ امری که به واکنش شدید پولیس آمریکا مواجه شد و عده ای را به کام مرگ فرستاد و جمعی دیگر را روانۀ زندان ها نمود.

سرانجام همین قربانی کارگران در شهر شیکاگو باعث شد که ۳۳ سال بعد، درسال ۱۹۱۹م، در تشکیل جامعه ی ملل، بر اساس معاهدۀ «ورسای»، تشکلی به نام "سازمان بین المللی کار"، هویت پیدا کند و بعداً نظر به توافقنامۀ دوجانبه میان سازمان بین المللی کار و سازمان ملل متحد، در سال ۱۹۴۶م در بدنۀ سازمان ملل متحد، ابعاد حقوق بشری کار نیز تضمین شود. البته قبل از آن، در سال ۱۸۸۹م به پیشنهاد نمایندۀ کارگران امریکایی کنگرۀ بین المللی کارگران، در شهر پاریس فرانسه، روز اول مَی به عنوان روز جهانی کارگر برگزیده شد که به تعقیب آن در سراسر جهان همه ساله درین تاریخ از روز کارگر یاد بود به عمل می آید.

[3]و اما در افغانستان؛ جایی که تعداد فابریکه ها محدود و شمار کارگران هم به تناسب کشورهای دیگر، اندک اند، از قدیم الأیام نه اتحادیه های کارگری بزرگی تشکیل یافته و نه هم تجلیل چندانی از روز کارگر، به عمل می آید. هرچند، در سال های حاکمیت خلقی ها، روی همرفته ازین روز تجلیل رسمی به عمل می آمد، اما تأثیر چندانی در بهبود وضعیت کار و کارگر نداشت و بلکه بسا کارگران و دهقانانی که مانند دیگر اقشار جامعه، به زندان انداخته شده ویاهم به اتهام ضد انقلاب، سر به نیست می شدند.

[4]در دوران سلطنت، بارها اعتصابات یا همایش هایی توسط کارگران به خاطر احقاق حق شان، راه اندازی شد که از آن جمله می توان به اعتصاب چهل روزۀ کارگران نساجی گلبهار در سال ۱۳۴۴ هجری خورشیدی اشاره نمود؛ اعتصابی که با زندانی شدن رهبران آن، پایان یافت. همچنان از همایش کارگران در سال ۱۳۵۲هجری خورشیدی به مناسبت اول ماه مَی در چهار راهی هوتل پلازای کابل می توان نام برد که به نام همبستگی کارگران جهان و قیام ستمکشان علیه ستمگران به راه افتیده بود. اما آشکارا ترین مراحل بنیاد های جنبش کارگری در افغانستان را بعد از ثور ۱۳۵۷هـ در دوران حکومت کمونستی میدانند و در این مرحله بود که مفاهیم کار، کارگری و جنبش های کارگران، وارد ادبیات سیاسی و اجتماعی کشور شد و صنف ها و اتحادیه های مختلف کارگران ایجاد گردید.

---

2 https://www.kabulpress.org/article106968.html

3 com/opinion_detail.php?post_id=139843

4 http://dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=139843

## کار و کارگر در قوانین افغانستان

علی رغم این که تمام حقوق و امتیازات یک کارگر در قانون کار افغانستان در نظر گرفته شده است اما عدم امنیت، ضعف رشد اقتصادی، عدم ثبات سیاسی در کشور و عدم مدیریت سالم مسؤولین در عرصهٔ اشتغال زایی، باعث شده که کارگران در افغانستان مجبور شوند؛ تمام مشکلات و قانون‌شکنی کارفرمایان را بپذیرند و یا به خاطر رهایی از شرّ بیکاری، با تحمل ده ها خطر، روانهٔ کشور های بیرونی گردند.

[5]مادهٔ یازدهم قانون کار تصریح می کند: "کارگران در عرصه های اقتصادی و اجتماعی حق تامین شرایط صحی و ایمینی کار و تولید، آموزش حرفوی، انکشاف مهارت ها، ارتقای سطح دانش مسلکی و حق استفاده از تأمینات اجتماعی را دارند" با این وجود، 44 درصد از قوهٔ کار افغانستان که در زراعت مشغول می باشند، درآمد خود را با وسایل ابتدائی چون بیل و کلند ازین سکتور به دست می آورند. و از سوی دیگر بر اساس گفتهٔ معین مسلکی ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات، حدود 2،7 ملیون کودک مصروف کار های شاقه می باشند. ماده های 59 و 64 قانون کار تاکید میدارند که مزد کارگر با نظر داشت کمیت و کیفیت کار و بست و رتبهٔ کارگر، بدون در نظر داشت هیچ نوع تبعیض در وقت معین آن باید پرداخت شود در حالی که کارگرانی در افغانستان با درجهٔ لیسانس وجود دارند که با معاش150 افغانی روزانه در سکتور خصوصی کار می کنند و در عین زمان این معاش ناچیز را به وقت معین آن دریافت نمی کنند. علاوه ازین، شمار زیادی از کار گران دیگر، همه روزه در چوک های مرکزی کابل و ولایات، به امید یافتن کاری، بلا تکلیف در انتظار به سر می برند و گاهی روزها بدون یافتن کاری، با دستان خالی به خانه های شان برمی گردند.

در مادهٔ چهاردهم و یکصد و یکم قانون کار افغانستان نیز آمده است که باید بین کارگر و کارفرما، قرارداد مکتوب موجود بوده و به موجب آن، کارگر طبق لایحهٔ وظایف در مقابل در یافت مزد و سایر حقوق و امتیازات دورهٔ کار برای مدت معین یا غیر معین به کار فرما ارائهٔ خدمات کند و فسخ قراداد در صورت غیابت مسلسل20 روز بدون دلایل موجه ویا نظر به اجزای (3، 4 و 5 ) مادهٔ 95، (کسر معاش، تبدیلی و یا فسخ قرار داد کار در حالی که بیش از دو بار در یک سال تکرار شود) می تواند صورت بگیرد. با این حال، در سکتور خصوصی در اکثر موارد بین کارگر و کارفرما، قرارداد خط موجود نیست و اگر هم باشد مواد آن یک طرفه به نفع کارفرما تنظیم می شود. بناءً، کارگر در افغانستان هیچ نوع مصونیت کاری نداشته و هر زمانی که کارفرما بخواهد وی را اخراج نموده و در عوض، کارگری دیگر را طبق دلخواه خود استخدام می کند.

به گفته مسئولان، از سال 1934م تا کنون، افغانستان 19 کنوانسیون بین المللی کار را امضا کرده است؛ با این حال، دو ملیون؛ افراد واجد شرایط کار در افغانستان بیکار می باشند و در حدود 400 هزار نیروی کارجدید بطور سالانه وارد بازار کار می شوند. به همین خاطر، لازم است تا وزارت کار و اموراجتماعی، در همکاری با

[5] http://cso.gov.af/fa/news/news-2

سائر ارگان های ذی ربط، به فکر چاره‌ء اساسی شوند.

## پیشنهادات

ـ بی تردید، مهمترین مشکل مربوط به عرصهٔ کار و کارگری، نرخ بالای بیکاری و نبود فرصت های کاری برای نسل جوان است؛ بناءً حکومت باید در عرصهٔ اشتغال زایی  پروژه های زیر بنایی را؛ چون: ساخت بند ها، میکانیزه و عصری کردن زراعت، حمایت از سکتور خصوصی و زمینه سازی برای استخراج معادن وغیره راه اندازی نموده، فرصت های کاری را برای شهروندان ایجاد کند.

ـ حکومت افغانستان باید پلان منظم اعزام کارگران، به کشور های دوست را روی دست بگیرد، تا ازیک طرف به وسیلهٔ پولی که این کارگران به کشور می فرستند، اقتصاد کشور تقویت گردد و از طرف دیگر، گراف بیکاری در کشور، تاحدی کاهش یابد.

ـ از سوی دیگر نیاز است جهت بهبود شرایط کار برای کارگران در سکتور خصوصی، از طرف دولت توجه صورت گیرد، تا کارفرمایان از مجبوریت های کارگران سوء استفاده ننموده حقوق ایشان را نقض نکنند.

ـ باید برنامه های کارآموزی از طرف دولت برای تخصصی سازی کارگران، زمینه سازی شود تا سطح مهارت کارگران بلند رفته و زمینهٔ ابتکارات و ابداعات در عرصهٔ کاری فراهم شود.

ـ در حال حاضر، کار و کارگر، فضای بسیار کمی از برنامه های رسانه های کشور - به خصوص تلویزیون ها- را به خود اختصاص داده است. لازم است تا رسانه های کشور، درکنار دیگر مسائل اجتماعی، به قضایای مربوط به زندگیِ کارگری نیزتوجه جدی نموده زمینهٔ بهبود وضعیت کارگر و ارتقای حقوق وی را از شعار به عمل و از قانون به تطبیق مهیاء سازند.

ارتباط با ما:

ایمیل: info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

ویب‌سایت: www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 202564049 (93+) - 784089590 (93+)

محقق و مسؤول تحلیل هفته: احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com